
# د چاقی ناروغیو د معالجی مرکز · Obesitascentrum

## نوی ملاقات

## Nybesök



تاسی کولای شی چی د خپل مور او پلار / سرپرستانو سره یو ځای د د
چاقی ناروغیو د معالجی مرکز ته راشی. که تاسی هم مور او هم پلار ولری،
کولای شی دوی دواړه ستاسی سره راشی.

Du ska få komma till Obesitascentrum tillsammans med dina föräldrar/vårdnadshavare. Om du har två föräldrar så ska båda två följa med dig.




دلته ډاکټر، پرستار، فیزیوتېراپیست، د تغذیي متخصص، اجتماعی مددکار،
روانشناس او کارتېراپیست کار کوی. موږ هغه ماشومان او نوځوانان وینو
چی د چاقی تکلیف لری.

Hos oss arbetar läkare, sjuksköterska, fysioterapeut, dietist, kurator, psykolog och arbetsterapeut. Vi träffar barn och ungdomar med obesitas/fetma.



تاسی دلته دوه ورځی پر له پسی راځی اما د شپی د خوا څخه په کور کی
ویده کیږی. تاسی کولای شی چی د غرمی ډوډی په روغتون کی
وخوری. ستاسی مور او پلار کولای شی خپل ډوډی د ځانه سره راوړی یا هم
رانیسی.

Du kommer att komma hit två dagar i rad men sova hemma på natten. Du får lunch på sjukhuset. Dina föräldrar kan ta med sig eller köpa mat.



د ځان سره خپل د سپورټ کالی او بوټونه او یو دانه ځان وچوونکی یا
دستپاک راوړی. د فیزیوتېراپیسټ د کتنی نه وروسته تاسی کولای شی چی
شاور (غسل) وکی.

Ta med dig träningskläder, träningsskor och en handduk. När du har varit hos fysioterapeuten kan du duscha om du vill.



که تاسی نشی کولای چی راسی، ضروری ده چی تاسی زنګ ووهی او احوال
ورکړی. دا ۲ یا ۳ میاشتی وخت نیسی تر څو چی تاسی ته نوی وخت ورکړه
شی. ټلیفون: ____________________

Om du inte kan komma behöver ni ringa och berätta det. Det kan ta 2 eller 3 månader innan du får en ny tid. Tel:

________________

För info om symbollicenser: http://www.dart-gbg.org/licenser
Detta bildstöd är skapat via www.bildstod.se i samarbete med Obesitascentrum, Sahlgrenska Universitetssjukhuset

KomHIT Flykting VÄSTRA GÖTALANDSREGIONEN SAHLGRENSKA UNIVERSITETSSJUKHUSET

# د چاقی ناروغیو د معالجی مرکز · Obesitascentrum


## نوی ملاقات

## Nybesök




اول تاسو د نرس سره کنته کوی او پدی باره کی خبری کوی چی په دغه اولو دوو ورځو کی څه کیږی او تاسی هم کولای شی چی خپل پوښتنی وکړی.

Först träffar ni en sjuksköterska och pratar om vad som ska hända under de här två dagarna och du kan ställa frågor.



موږ ستاسو د قد او وزن اندازه اخلو.

Vi mäter och väger dig.




په همدی ډول د یوی فیتی (متر) په وسیله موږ ستاسی د غاړه، بازو، نس او د نشیمنګاه (کوناټیان) اندازه اخلو.

Vi mäter också runt din hals, arm, mage och rumpa med ett måttband.



موږ ستاسی د وینه فشار او د نبض اندازه اخلو.

Vi mäter ditt blodtryck och puls.



وروسته تاسی د ډاکټر او نرس سره کتنه کوی.

Sedan får du träffa läkare och sjuksköterska.

För info om symbollicenser: http://www.dart-gbg.org/licenser
Detta bildstöd är skapat via www.bildstod.se i samarbete med Obesitascentrum, Sahlgrenska Universitetssjukhuset

# د چاقۍ ناروغیو د معالجې مرکز · Obesitascentrum

## نوی ملاقات

## Nybesök



ستاسو مور او پلار هغه سوالونو ته په کاغذ کې ځوابونه ئې ویلي دي چې ډاکټر ته ئې ورکړي. ډاکټر تاسو سره د هغه شیانو په باره کې پر کاغذ باندې لیکل شوي دي خبرې کوي.

Dina föräldrar har svarat på frågor på ett papper som de ger till läkaren. Läkaren pratar med er om det som står på pappret.



وروسته بیا تاسې فیزیوتیراپیسټ ته ځئ. تاسې باید ورزشي کالي واغوندئ او انتظار په کوټه کې کښینئ.

Sedan går du till fysioterapeuten. Där får du byta om till träningskläder och vänta i väntrummet.



کله چې فیزیوتیراپیسټ راځي تاسې د یوې لحظې دپاره خبرې سره کوئ.

När fysioterapeuten kommer får ni prata en stund.



تاسې باید د زینو د ختلو ټسټ هم ورکړی یعنې زینو ته وخیږئ او بیرته کښته را شئ.

Du får göra ett trapptest där du går upp och ner i en trappa.



په همدې ډول تاسې باید د چالاکۍ، زبردستۍ او زور ټسټ ورکړئ.

Du får också testa din snabbhet, smidighet och din styrka.

För info om symbollicenser: http://www.dart-gbg.org/licenser
Detta bildstöd är skapat via www.bildstod.se i samarbete med
Obesitascentrum, Sahlgrenska Universitetssjukhuset

# د چاقی ناروغیو د معالجی مرکز · Obesitascentrum


## نوی ملاقات

## Nybesök



تاسی او ستاسی اولیا د روانشناس او اجتماعی مددکار سره کتنه کوی. تاسی کولای شی چی ټوله یا یواځی د روانشناس سره خبری وکړی.

Du och dina vårdnadshavare träffar psykolog och kurator. Ni pratar tillsammans eller så pratar du själv med psykologen.




اوس کولای شی چی کور ته ولاړ شی. د ۲۲ بجو څخه وروسته تاسی اجازه نه لری چی کوم شی وخوری. تاسی کولای شی چی عادی اوبه وڅښی.

Nu får du åka hem. Efter kl 22 ikväll får du inte äta någonting. Du kan dricka vanligt vatten.




بل سهار، تاسی یو دانه پلسټر چی د بیحسی دوا لری یو دوه ساعته د معایناتو د اخیستلو نه مخ کی د خپل بازو تر بلند لاندی وموښلوی.

Nästa morgon kan du sätta på bedövningsplåster i båda armvecken 1-2 timmar före provtagningen, om du vill.



پرستاره (نرس) پلسټر ایسته کوی. اوس بازو مو بی حسه دی.

Sjuksköterskan tar av plåstret. Nu är armen bedövad.



موږ د بازو څخه وینه اخلو.


Vi tar blodprov från armen.

För info om symbollicenser: http://www.dart-gbg.org/licenser
Detta bildstöd är skapat via www.bildstod.se i samarbete med Obesitascentrum, Sahlgrenska Universitetssjukhuset

# د چاقۍ ناروغیو د معالجې مرکز • Obesitascentrum

## نوی ملاقات

## Nybesök




مورږ د ګوته څخه یوه څکه وینه اخلو.

Vi tar en droppe blod från fingret.




تاسی دوه ګیلاسه اوبه د بورې سره وڅښئ.

Du får dricka två glas vatten med socker i.




تاسی د دوو ساعتو دپاره کرار او آرام کښینی بیله دی نه کوم شی وخوری یا وڅښئ.

Du får ta det lugnt och vänta två timmar utan att äta eller dricka något.



وروسته بیا ستاسی د ګوتې څخه د وینې یو نوی ټسټ اخلو.

Sedan tar vi ett nytt blodprov från fingret.



تاسی د ځان دپاره یوه دانه تحفه واخلئ.


Du får välja en liten present.

För info om symbollicenser: http://www.dart-gbg.org/licenser
Detta bildstöd är skapat via www.bildstod.se i samarbete med
Obesitascentrum, Sahlgrenska Universitetssjukhuset

# د چاقۍ ناروغيو د معالجې مرکز · Obesitascentrum

## نوی ملاقات

## Nybesök



د تغذيي متخصص ستاسی څخه د خوړل او څکل په باره کی څو پوښتنې کوی.

Dietisten kommer ställa frågor om mat och dryck.



مخکې لدې نه چی تاسی کورته رخصت شی، تاسی بيا هم د ډاکټر سره کتنه کوی او هلته تاسی ته پيشنهاد کيږی چی موږ په څه ډول کولای شو ستاسی سره مرسته وکړو.

Innan ni går hem får ni träffa läkare igen och får förslag på hur vi kan hjälpa er.

För info om symbollicenser: http://www.dart-gbg.org/licenser
Detta bildstöd är skapat via www.bildstod.se i samarbete med Obesitascentrum, Sahlgrenska Universitetssjukhuset